## نوم لیکنه

که چیرې پدې دوره کې د ګډون تکل لرئ نو مهرباني وکړئ د پاڼې په پای کې لیکل شوي شخص ته مراجعه وکړئ.

لدې چې د هرټولګي ظرفیت یوازې 20- 12 نفر دی، نو نوم لیکنه اړوند دوره کې کیږي او که چیرې ټولګی ډک وي نو د انتظار په لست کې مو نوم پاتې کیږي. په ټولګي کې د مرتب حضور څخه ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ګډون غوښتونکو سره یو لیکلی توافق کیږي.

Siham Namou
Nina.Ermlich@Malteser.Org
Niederstraße 12
Essen 45141

**Start: 11. September 8:00**

Montags, dienstags und donnerstags

Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

Malteser
...weil Nähe zählt.




# د همغږۍ ټولګی (انټیګریشن) او د ژبې ټولګی: لومړنۍ لارښوونه او د ارزښتونو ښوونه

## د همغږۍ ټولګی (انټیګریشن) او د ژبې ټولګی لومړنۍ لارښوونه او د ارزښتونو ښوونه

له جولای 2017 څخه د Malteser انجمن ستاسې د اوسیدو ځای کې او یا د هغه په ګاونډ کې یوه نوې دوره په لاره اچوي چې د آلمان د کډوالۍ او پناه ورکولو ادارې (BAMF) لخوا مالي ملاتړ کیږي او دا طرح په ټول آیالت کې اجرا کیږي. د دورې پیل له هرې نیټې څخه امکان لري. پدې دوره کې 300 درسي ساعتونه دي چې یولس بیلابیل موضوعات پکې شامل دي. د دې دورې موخه د ژوند نوي چاپیریال سره ستاسې همغږي کول دي ترڅو تاسې وکولی شئ په لاندې ذکر شوي شرایطو او موضوعاتو کې د ژوند لومړنیو او ورځني چارو کې د آلماني ژبې معلوماتو څخه کار واخلئ:

- په آلمان کې ورځنی ژوند
- کار
- پیرود
- روغتیا/صحي پاملرنه
- وړکتون/ښوونځی
- په آلمان کې د رسنۍ څخه کار اخیستل
- د ځای موقعیت تشخیص/حمل او نقل/ځای په ځای کیدل
- آداب او رسوم/ځایی ځانګړتیاوې
- د ځان او د نورو په اړه غږیدل/ټولنیزې اړیکې
- ارزښتونه او ګډ ژوند
- استوګنه

ټولګی به د ښوونکي لخوا پرمخ وړل کیږي، سربیره پردې **د ښوونې ملاتړي افراد هم په داوطلبانه** ډول تاسې سره مرسته کوي چې د ټولګي محتوا او مینځپانګه په ښه توګه درک کړئ او ژوره زده کړه وکړئ. په ورته توګه شاوخوا چاپیریال کې ګرځیدل هم د روزنیز برنامې یوه برخه ده ترڅو زده کړي موارد په عملي ډول وکارول شي. د دورې په پای کې باید تاسې وکولی شئ چې په درسي موضوعاتو کې په هریوه عادي ذکر شوي موقعیت کې خپل مقصد په آلماني ژبه تفهیم کړئ او د آلماني ژبې ساده خبرو کې ګډون وکړئ. د دورې په بریالیتوب سره پای ته رسولو وروسته تاسې ته **په ټولګي کې د حضور تصدیق پاڼه** درکول کیږي.

د 16 کلونو څخه ډیر عمر لرونکي ټول نارینه او ښځې یوازې هغه مهال پدې دوره کې نوم لیکنه کولی شي چې ژمن اوسي د 45 دقیقو 300 درسي ساعتونو کې ګډون کوي. دا ټولګي د هغه افرادو لپاره برابریږي چې د پناه غوښتنه یې کړې ده مګر تردې دمه یې ځواب ندی ترلاسه کړی. پدې دورو کې ګډون کولو لپاره د آلماني ژبې لومړنۍ پوهې او د لاتین حروفو پیژندل اړین او لازمي ندي مګر ستاسې په مورنۍ ژبه د لیک لوست وړتیا به ستاسې په زده کړه کې اغیزناکه وي.